**بسم الله الرحمن الرحیم**

## په نړۍ کې پانګوال نظام او د هغه چټلۍ!

**(لومړۍ برخه)**

**(ژباړه)**

د غرب فرهنګ اوسمهال پر نړۍ خور شوی دی. کله چې په ۱۸مه میلادي پېړۍ په اروپا کې دغه فرهنګ را پورته شو، نو اسلامي فرهنګ یې له قدرت څخه ګوښه کړ. دغه راز کله چې غرب په پوځي جګړه کې خلافت مات کړ، نو په اسلامي خاورو کې د اسلامي فرهنګ ځای هم دغه فرهنګ ونیوه. د هغه مهال ځواکمنو هېوادونو فرانسې او برېتانیا له هماغه وخته د اسلام د له منځه وړلو او د مسلمانانو له ژوند څخه د اسلام د لرې کولو پلان درلود، چې وروسته یې د اسلام د واکمنېدو د مخنیوي هڅه هم وکړه.

دغه مسوولیت اوسمهال د امریکا پر غاړه دی. مارکسیستي مفکوره او د هغې نړیوالې طرحې (د استعمار برابري، نړیواله سوله او د کارګرې طبقې یووالی) هغه څه و، چې د غرب د فرهنګ پر وړاندې لومړنې خنډونه ګڼل کېدل؛ په ځانګړې توګه کله چې د شوري اتحاد په چوکاټ کې د روسیې په رهبرۍ سره راټول شول. مارکسیستي مفکوره ونه توانېده چې پر یوه ځانګړي فرهنګ تمرکز وکړي او د خلکو کارونه د هغوی د دیني باورونو پر بنسټ ترسره کړي. خو دولتي مسایل یې د سوسیالیستي مفکورې پر بنسټ حلول. کله چې په ۹۰یمه لسیزه کې سوسیالېزم ګډوډ شو او شوري اتحاد له منځه لاړ، نو د غرب د فرهنګ پر وړاندې بل هېڅ خند پاتې نه شو. له دې وروسته د غرب فرهنګ او نړیوالو طرحو لکه؛ ډیموکراسي، لیبرالېزم او پر نړۍ د تسلط لپاره د دوی ازادیو ته میدان ورخوشې شو. اوسمهال له اسلامي فرهنګ پرته بل هېڅ داسې فرهنګ نشته چې غربي فرهنګ ته ګواښ پېښ کړي. خو اسلامي فرهنګ هم د مسلمانانو په ذهنونو کې د یوې پروژې په حیث دی، چې د ټیکاو لپاره یې ډېر ګوندونه او ټولنې کار کوي. ایا پر نړۍ غربي فرهنګ له دې کبله بریالی شوی چې سم دی؟ که دا یوه لنډ مهاله بریا ده یا په ټکنالوژۍ او اختراعاتو کې د غرب پرمختګ د دې لامل ګرځېدلي دي؟ په دغې مقاله کې د همدغو پوښتونو د ځوابولو هڅه کوو؟

پانګوالي هغه اقتصادي نظام دی چې د ژوند، کایناتو او انسان له ټولیزې مفکورې څخه منشاء اخلي. د دې لپاره چې د پانګوالۍ پر نظام پوه شو او په اړه یې حکم وکړلی شو، نو باید هغه مفکوره مطالعه کړو چې پانګوالي سرچینه ترې اخلي. هغه مفکوره چې پانګوالي ترې سرچینه اخلي سیکولرېزم یعنې د دین او دونیا بېلتون دی. دغه مفکوره له غرب په ځانګړې توګه اروپا څخه راپورته شوې ده. د دغې مفکورې د فساد او اساسي نقص په اړه

به دومره ووایو چې دکایناتو، ژوند، انسان په اړه او هم له وړاندې او وروسته سره د دوی د اړیکې په برخه کې د عقل پایله سمه نه ده. که څه هم دغه محسوس واقعیتونه او له وړاندې او وروسته سره یې اړیکه په احکامو کې بیان شوې ده. خو هغه احکام چې د انسان، کایناتو او ژوند په مبدأ پورې اړه لري، د هغه ژوند د کړنو پایله ده چې غربیانو په منځنیو پېړیو کې کاوه. دا هر څه د هغه وخت د کلیسا او علومو ترمنځ په جګړو کې په ښه ډول ښکاري، چې یوه لوري کسانو یې ځانونه د الله سبحانه وتعالی استازي بلل او د بل لوري مفکرو خلکو بیا ځانونه د مادي چارو مسوول ګڼل. عقل د دغه لانجو په حل کې په یوازې ځان حکم نه کاوه، نو کلیسا (چې ځان یې د خلکو استازی ګاڼه) د وینې تویونې، وېرې او غوسې لامل شوه. وروسته ډېره غوسه د دې لامل شوه، چې علما او متفکرین انقلاب وکړي او بالاخره قضیه یې په منځلاریتوب سره حل کړه. دا ځکه چې یوه لوري هم د مقابل اړخ د پوره له منځه وړلو توان نه درلود.

منځلاریتوب یعنې د دین او دونیا په بېلوالي اعتراف کول. دا د دغې مقولې د رامنځته کېدو لامل شوه: «هغه څه چې د قیصر دي قیصر ته او هغه څه چې د الله دي الله ته دې ورکړل شي.» یعنې پر دوو متضادو شیانو اعتراف کول، چې د یو ځای کېدو امکان یې هم نشته دی. د دوی په اند علم د دین او عقل د ایمان مخالف و. ځکه علم په غیبیاتو پورې تړل کېده، د درک امکان یې نه و او دویم په حواسو او محسوسو واقعیتونو پورې تړل کېده. په دې ډول یې هر یوه ته خپل خپل ځای ورکړ. دوی به ویل، چې دین د انسان او خالق تر منځ اړیکه ده او ځای یې هم کلیسا دی. علم ټولې اړیکې ترتیبوي او له ټول پراخوالي سره سره  یې ځای ژوند دی. د دوی په هغو متضادو باورونو لکه؛ علم، دین، عقل او ایمان کې لانجې رامنځته شوې. نو دا یو خوب دی چې انسان دې د سیکولرېزم عقیدې (د دین او دونیا بېلوالی) ته تسلیم شي. ځکه دا عقیده د عقل پر بنسټ نه، بلکې پر منځلاریتوب ولاړه ده. په دغې عقیده کې دین ته د تسلیمېدو ځای هم شته، یعنې د خالق او محشر د ورځې په اړه ضمني اعتراف کول دي. دغه راز مادي ژوند ـ چې د عقل محصول دی ـ هم په کې شاملېږي. موږ دې پایلې ته رسیږو چې دغه عقیده باید رد شي، ځکه چې پیل یې له خپل پای څخه انکار کوي.

عقل هغه وسیله ده چې د پېښو  په اړه یوازې قضاوت کوي او انسان له نورو ادرسنو څخه بېلوي. کله چې څوک د دغو ادرسونو په اړه فکر وکړي، چې کاینات، انسان او ژوند هم پکې شامل دي، نو پر دې به پوه شي چې دا شیان پر خپل ځان متکي نه دي. ځکه دا شیان محدود، ناقص او کمزوري دي. دوی واجب الوجود خالق ته اړتیا لري، په هغه یې تکیه کړې او د هغه د نظام او لارې پیرو دي. الله سبحانه وتعالی د خپلو موجوداتو په اړه بې شمېره عقلي او نقلي دلیلونه راوړي، چې له خالق سره د کایناتو، ژوندو او انسان اړیکه ټینګوي.

نو له دې کبله پوهیږو، چې عقل ایمان ته د رسېدو وسیله ده. د دین اساس د انسان کایناتو او ژوند په اړه فکر کول دي. له دې څخه ښکاري چې دین له عقل سره په ټکر کې نه دی. که چېرې موږ د نصرانیت پر عقیده

ـچې عقل يې د عقيدې له ثابتولو څخه عاجز دی او ديناري يې د الله سبحانه وتعالی له طرفه په زړه کې د ايمان وراچول ګڼل کېږي-تطبيق کړو نو پر دې پوهيږو چې دين د دوی لپاره داسې يو څه دی چې احساسېږي، خو عقلي نه دی. د اسلام په اړه بيا دغه باور سم نه دی، چې عقل ايمان ته د رسېدو وسيله وبولي او د عقيدې د سموالي او ناسموالي حاکميت ورکړي.

اسلامي عقيده په لاندې څو اساسي ارکانو ولاړه ده: ايمان پر الله سبحانه وتعالی او دا چې قران کريم د الله سبحانه وتعالی له لوري رالېږل شوی دی. پر دې ايمان چې محمد صلی الله عليه وسلم وروستی رسول او د الله سبحانه وتعالی له لوري دی. دا د اسلامي عقيدې اساسي ارکان دي او هغه عقل چې له نفسي غوښتنو خالي وي پر دې ښه پوهيږي چې دا سم دي او له واقعيت سره سمون لري. په داسې حال کې مو دې ته پام کېږي، چې پانګوالي د يوې بې ثباته عقيدې پر بنسټ رامنځته شوې او دا سمه نه ده چې انسان يې دې د ژوند د فکري قاعدې په توګه غوره کړي. نو نيمګړتيا يې په اصل کې ده، کله چې يو شی د باطل پر بنسټ ولاړ وي، هغه پخپله هم باطل دي. له دې اړخه د ژوند په برخه کې د دوی نظامونه باطل دي او بشر ته نيکمرغي نشي راوړلی.

که جزياتو ته ورشو، نو د پانګوالۍ نه مسووليت په څرګندو ټکو کې ښيي، ځکه دا نظام له عقل سره په ټکر کې دی او عقل ته قناعت نه شي ورکولی. دا نظام زړونو ته خپګان راوړي او ژوند بې خونده کوي.

پانګوالۍ انسان او د هغه فطرت چې غريزې او حاجات دي له منځه وړي، ځکه انسان يې پر دې سربېره د الله سبحانه وتعالی له بنده ګۍ ايستلی، چې پر شتون يې اعتراف هم کوي. دوی د الله سبحانه وتعالی له لوري د تدبير له اړيکې ـچې د انسان ژوند يې ترتيب کړی ـ انکار کوي. الله د خالق په حيث پېژني، خو د امر کوونکي په حيث يې نه پېژني. دغه راز وايي، الله زموږ د کړنو په اړه حکم نه کوي. د پانګوالۍ په باور الله سبحانه وتعالی يوازې خالق دی، داسې خالق نه چې دستور ورکړي. الله سبحانه وتعالی په دې اړه فرمايي:

**﴿الا له الخلق الامر﴾**

***ژباړه:*** *پر دې پوه شئ چې پيدا کول او فرمان ورکول د الله سبحانه وتعالی په لاس کې دي.*

پانګوالي انسان خالق ته اړ بولي، خو له بده مرغه چې د اړينتوب له دغه حالت څخه انکار کوي. په داسې حال کې چې تدبير ته اړتيا د دوی د فطرت غوښتنه ده، لکه څنګه چې انسان خپل ذات ته اړتيا لري، ترڅو باور پرې وکړي او په خپله ګټه ځان پوه کړي. خو پانګوالۍ انسان په داسې يو شخص بدل کړی، چې د ژوند هر څه يې د دونيا خوند ګرځېدلی دی او د دوی د فکر کولو محور يوازې ځانغوښتنه ده. په هره کچه چې د دوی

ځانغوښتنه زیاته شي، په همغه اندازه یې فطرت او غرایز تر پوښتنې لاندې راځي. که غرایز اشباع نه شي، انسان د بدمرغۍ کندې ته لوېږي.

داسې غریزې هم شته چې انسان یې د اشباع کولو لپاره خپل ځان قربانوي او د خپلې ایډیولوژۍ د مبدا د بریالي کولو په خاطر ځان بې ارزښته ښیي او دا د تدین د غریزې خاصیت دی. کله چې یو څوک د خپل اولاد لپاره له خپل مال او ځان څخه تیرېږي، دا بیا د جنسیت د غریزې ځانګړنه ده. نو که چېرې انسان خپل ځان مرکز وګرځوي او د هر څه محور یې وبولي، نو بدمرغه کېږي. په سمه مبدا کې اصل دا دی، چې انسان ته نیکمرغي ور په برخه کړي. دا ډول حالت له فردي اړخه دی، د نړیوال لیدلوري له مخې په پانګوالۍ کې د هېوادونو تر منځ په اړیکو کې یوازې ګټه حاکمه ده. ځواکمن کسان پر کمزورو بر لاسي وي، په ورته وخت کې کمزوري کسان په ټولنه کې هېڅ ځای نه لري. هېڅوک د کمزورو د ستونزو په اړه فکر نه کوي، هغوی د بشریت دلاس الې دي، له دې حالته یې مرګ ښه دی او دا د انسان په اړه یوازې د پانګوال نظام فکر دی. ښکېلاک د پانګوالۍ پرمختللی پړاو دی، ځکه چې قوي دولتونه د کمزورو دولتونو په ځورولو کې سیالي کوي، استثماروي یې او وینې یې څښي. نو په دغه حالت کې د ښکېلاکګرو تر منځ جنجالونه پیلېږي او پایله یې ویجاړوونکې جګړې وي. که دوه پېړۍ مخکې نړیوالې جګړې مطالعه کړو، نو پوهېږو چې یوازنی لامل یې په مادي ګټه او استثمار پسې منډې وهل و.

د پانګوالۍ تر ټولو لوی نظام د هغې اقتصادي نظام دی، چې موخه یې په ټولنه کې د اخلاقي ارزښتونو په پام کې نه نیولو سره د پانګې زیاتول دي. په ورته وخت کې پانګه د پیسو د دستګاه په وسیله ویشي. دا کار د پانګوالۍ د ځایونو په داخل او بېرون کې د ډېرو ویجاړیو لامل شوی دی. د مالکیت ازادۍ او اقتصادي پرمختګ په نامه لوی لوی شرکتونه او بانکونه جوړ شوي، چې د خلکو پانګه لوټوي او په پایله کې پانګوال پر غریبو خلکو برلاسي کیږي او لوی طبقاتي توپیر رامنځته کوي. په پانګواله ټولنه کې ۱-۲ سلنه خلک پر ۹۸سلنه خلکو حکومت کوي او ۲سلنه خلک پر ۹۸سلنه خلکو پانګه ویشي. د دغه نظام په بهرني سیاست کې له ښکېلاک، جګړې او د کمزورو خلکو له وینې زبېښلو پرته بل څه نشته. له دغو جنایتونو پرته تباه کوونکې ناروغۍ هم پکې دود شوي؛ لکه: ایډز چې له اخلاقي ارزښتونو پرته د مادي ګټې لپاره د خلکو د اړیکو په پایله کې رامنځته شوې ده. په غرب کې میلیونونه خلک په ایډز اخته شوي او دې کچې ته رسېدلي چې د غرب په پرمختللو ښارونو لکه نیویارک او نورو کې جرمونه د ثانیو پر اساس شمېرل کېږي.

د پانګوالۍ نظام چې کله رامنځته شوی ستونزې او کړکېچونه یې پیل شوي دي مثلاً؛ په ۱۹مه پېړۍ کې د همدې نظام له رامنځته کېدو سره سم په امریکا کې د کارګرو د مزد او کاري ساعتونو کړکېچ، چې ډېر دوام یې وکړ او بالاخره منځنۍ حللاره یې ورته پیداکړه. وروسته د ۲۰مې پېړۍ په لومړیو (۱۹۲۹م) کې لوی اقتصادي

کړکېچ رامنځته شو. همدارنگه پر ښارونو د حاکمیت لپاره لویې لویې جگړې او کړکېچونه پیل شول، چې په لومړۍ او دویمه نړیواله جگړه کې یې له امله ۲۰ میلیونه انسانان له منځه ولاړل. دغه راز لسگونه میلونه خلک ټپیان او معلول شول؛ تر څنگ یې ویجاړۍ، وینه تویونه، وېره او رواني ناروغۍ هم ملگرې وې. وروسته د لویو دولتونو تر منځ جنجالونو دوام پیداکړ، وسله والې سیالۍ پیل شوې او د دغو کړکېچونو د مخنیوي لپاره یې میلیونونه ډالر ولگول. په دې پړاو کې پوځي ښکېلاک د لویو اقتصادي شرکتونو د خدمت لپاره ډېر هېوادونه ونیول. وروسته د ۲۱م پېړۍ په لومړیو کې د مالکیت گروۍ په نامه اوسنی کړکېچ رامنځته شو، چې رواني ستونزې یې نورې هم ډېرې کړې. دغه کړکېچ د اقتصادي زیانونو لامل شو، چې په ۲۰۰۸م کال کې له ۱۴ترېلیونو ډالرو ډېر ښودل شوی دی او دا کچه په ۲۰۱۱م کال کې ٦٠ترېلیونو ته رسېدلې ده. سربېره پر دې د لویو موسیسو اقتصاد گډوډ دی، د بې کارۍ کچه لوړه ده، ورځنۍ تنخوا کمه شوې، د غریبانو او هغو کسانو شمېر ډېرې شوی چې د لوږې له امله د مرگ له خطر سره مخ دي. دغه کړکېچ لاهم دوام لري، یوې او بلې خواته د خپرېدو په حال کې دی او غربي رهبران یې د کنټرولولو توان نه لري.

یوازنۍ هغه لار چې غربي دولتونه او د هغوی په سر کې امریکا یې د خپلو اقتصادي گټو د خوندي کولو لپاره کاروي: «موخه، وسیله توجیه کوي.» امریکا د ملگروملتونو په وسیله خپلو موخو ته ځان رسوي او خپل چټل سیاست پلی کوي. ښکاره بېلگې یې په منځني ختیځ یعنې سوریه، عراق، یمن او افغانستان کې د امریکا سیاست دی. دغه سیاست خلک له لویو لویو ستونزو سره مخ کړي دي.

پانگوالۍ په اقتصادي برخه کې هم خلک له لویې بلا سره مخ کړي دي. د COMPASSIOK INTERNATIONAL سازمان د مالوماتو پر بنسټ د نړۍ د نیمو خلکو ورځنی عاید ۲،۵ ډالره دی. او د CREDIT SUISSE 45 سازمان د راپور پر بنسټ ٪٦٠ شتمني د ٪۰،۷ خلکو په لاس کې ده. دا کمه شمېره خلک د ټولې شتمنۍ ۱۱٦ترېلیونه ډالر په واک کې لري. په یوه بل راپور کې د نړۍ د تر ټولو شتمن کس ـ د امازون شرکت اجرایه مشر «جیف بیزوس» په اړه ویل شوي، چې یوازې په یوه ورځ کې د هغه په حساب کې ۱۲میلیارده ډالر ډېرېږي. دغه پیسې په یوه ساعت کې ۵۰۰ میلیونه او په یوه ثانیه کې ۸ میلیونه او ۳۳۳ زره ډالرو ته رسېږي. په «بورس نیویورک» کې ٪۳،٦ د امازون برخه زیاته شوې ده. همدارنگه د «بلومبرغ» وېپاڼې د راپور پر بنسټ، یوه برخه یې ۱۲،۱٦۱۴ ډالره وه. د «فوربس» وېپاڼه وایي چې په دوو ورځو کې د بیزوس گټه ۹میلیاردو ته رسېدلې او دا هغه مهال ورسېده چې د امازون ۱٦سلنه برخه یې جوړوله. دغه راز هغه وویل، بیزوس غواړي چې د هندي الکترونیکي سوداگریز شرکت FLIPKART د پلورلو لپاره خبرې پیل کړي. د دغه شرکت خاوندانو ته یې ۱۱میلیارده او ٦۰۰میلیونو ډالرو وړاندیز کړی او د دغه کال د څلورمې برخې یوه سلنه یې د ایتوپیا د روغتیا وزارت له بودیجې سره سم ده.

په ورته وخت کې میلیونونه خلک په فقر کې ژوند کوي، له سختو ناروغیو سره مخ دي او حتی له لوږې مري. د ملګرو ملتونو سازمان د مالوماتو پر بنسټ په ۲۰۱٦م کال کې ۱۵۵میلیونه ماشومان له لویېدو پاتې شول او په ۲۰۱۵م کال کې ۵،۹ میلیونه ماشومان له زیږېدو وروسته په دریمه او څلورمه ورځ مړه شول. له دې ټولو پېښو سره سره د نړۍ نیږدې نیمه برخه خلک یعنې له ۳میلیاردو د زیاتو انسانانو ورځنی عاید ۲،۵ډالره دي. دغه راز له ۱،۳میلیارده زیات خلک له ۱،۲۵ په کمو ډالرو ژوند کوي. او سمهال په نړۍ کې یو میلیارد ماشومان په فقر کې ژوند کوي. د یونیسف د راپور پر بنسټ هره ورځ ۲۲زره ماشومان د فقر له امله مري.

په نړۍ کې ۸۰۵ میلیونه انسانان د خوراک لپاره کافي خواړه او ۷۵۰ میلیونه نور د څښاک لپاره پاکې اوبه نه لري. په ۲۰۱۱م کال کې ۱٦۵میلیونه ماشومان د سخت فقر له کبله له لویېدو څخه پاتې شول. دغه راز هر کال ۲میلیونه ماشومان د پوښتورګو د ناروغۍ او پېچش له کبله مړه کېږي او دا هغه فقیر ماشومان دي چې د خپلې درملنې امکانات نه لري. د نړۍ څلورمه برخه ۱،٦میلیارده انسانان د برېښنا له نعمت څخه محروم دي.

د «اکسفام» د راپور پر بنسټ له فقر سره د مبارزې لپاره ٦۰ تریلیونه ډالرو ته اړتیا ده، چې د ۱۰۰میلیارده شتمنۍ له څلورمې برخې څخه هم کم کېږي. سربېره پر دې د بې کارۍ کچه هم لوړه ده. د کار نړیوال سازمان د راپور پر بنسټ په ۲۰۱۷م کال کې د بې کاره خلکو شمېر ۱۹۲،۷میلیونه و. له شک پرته چې دا هغه ترخه حقیقتونه دي، چې د پانګوالۍ د چټل نظام د پلي کېدو له امله رامنځته شوي دي.

په حقیقت کې د پانګوالۍ نظام، غربي دولتونه او په سر کې یې امریکا فاسد دي او زموږ دغه ادعا د هغه ځای خلک هم تاییدوي. امریکایي مستند جوړوونکی «مایکل مور» وایي: د پانګوالۍ نظام یو فاسد نظام دی، د ترمیم قابلیت نه لري او باید له منځه لاړ شي.

پانګوالي یو کفري نظام دی او د امریکا جنایتونه هم بیخي له شمېر وتلي دي. هغه ځایونه چې امریکا د خپلو چټلو سیاستونو قرباني کړل: هېروشیما، ناګازاکي، منځنی ختیځ، عراق، افغانستان، سوریه، لیبیا، سومالیه او داسې نور. د امریکا د جنایتونو لېست اوږد دی، تل هغوی پر خلکو ظلم کوي او له ماشومان سره یې یو ځای وژني. «د ټولنې مسوول ډاکټران» د سازمان (داسې یو سازمان دی، چې د هسته یي جګړو د مخنیوي په اړه مبارزه کوي) پر بنسټ په عراق، افغانستان، یمن او پاکستان کې د امریکا د لومړنۍ ۱۲کلنې جګړې پر مهال ۱،۲ میلیونه انسانان وژل شوي دي. د ملګرو ملتونو د استازي «ستیفان یوجاریک» د راپور پر بنسټ یوازې په ۲۰۱٦م کال کې ۸ زره ماشومان وژل شوي، له شک پرته دا یوازې هغه رسمي معلومات او شمېرې دي چې خپرې شوي، په حقیقت کې د وژل شوو شمېر له دې څخه هم زیات دی.

په وروستیو کلونو کې د نړیوال کېدو مسله راپورته شوه، چې په ټوله نړۍ کې قوي خلک پر کمزورو برلاسي کوي او دغه امر ته حتا یو ډول قانوني اجازه ورکړل شوې ده. د تجارت نړیوال سازمان په ګډون نړیوالو هوکړه لیکونو هم هغه تایید کړي دي. همدارنګه هڅه کوي چې د وسلې په زور یې ملاتړ وکړي، تر څو هېڅوک یې د له منځه وړلو توان ونه لري او سرغړونه ترې ونه کړي.

پوښتنه دا ده چې دا مبدأ تر دې مهاله څه ډول په قدرت کې پاتې شوې؟ یا په بل عبارت هغه څه و چې له دغې مبدأ سره یې مرسته کړې ده؟ هغه کومې وسیلې دي چې د پانګوالۍ دوام ته یې لار هواره کړې ده؟ دوام لري ...

**لیکوال: محمد زیلعي (یمن)**

**ژباړن: حبیب الله**